اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ګڼه: ۴۵ | مسلسل نمبر: ۸۷
یکشنبه، د شعبان المعظم ۲۴مه، ۱۴۴٦ هـ.ق کال



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان له لومړي وزیر سره وکتل



۲ صفحه

## کابل او تاشکند په بېلابېلو اقتصادي برخو کې د ګډې همکارۍ په پراختیا ټینګار وکړ



۴ مه صفحه

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند شماری از بخش‌ها در شفاخانه سردار محمد داوود خان را به بهره برداری سپرد



۶ مه صفحه



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستان ته د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په څلورمه نېټه سفر وکړ. په دې دوه ورځني سفر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان له لومړي وزیر، د لومړي وزیر له مرستیال او په ازبیکستان کې له میشتو پانګوالو او سوداګرو سره په جلا جلا ډول وکتل. په دې لیدنو کتنو کې د ازبیکستان له چارواکو سره د سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراختیا او په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې د ازبیکستاني پانګوالو د پانګونې په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې چې د ازبیکستاني چارواکو له لوري په دې برخو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ته د همکارۍ ډاډ ورکړل شو. همداراز د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په دې هېواد کې د میشت افغان پانګوالو او سوداګرو سره په ناست کې له هغوی وغوښتل چې خپل صنعت او پانګه دې هېواد ته را انتقال او د هېواد په پرمختګ کې دې خپل مسوولیت ادا کړي.

د نړیوالو اړیکو له لارې یو هېواد کولای شي له نورو هېوادونو سره ملګرتیا رامنځته کړي، چې په نتیجه کې یې د اقتصادي پیاوړتیا او د پرمختللو ټکنالوژیو څخه ګټه اخیستل کېږي. سربېره پر دې، دغه ډول اړیکي د مختلفو کلتورونو ترمنځ د پوهې او تفاهم لامل ګرځي او د همکارۍ فضاء رامنځته کوي. دا اړیکي د یوه هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره حیاتي دي. له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو له لارې، یو هېواد کولی شي خپل محصولات او خدمات نړیوالو بازارونو ته وړاندې کړي. د صادراتو او وارداتو په زیاتېدو سره، یو هېواد کولی شي خپله اقتصادي وده چټکه او د عایداتو کچه لوړه کړي.

اسلامي امارت هم د نړیوالو اړیکو اهمیت ته په کتو په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. له ګاونډیو هېوادونو څخه نیولې بیا د سیمې او ان نړۍ له ځینو هېوادونو سره یې خپلې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې پراخې کړې دي. ازبیکستان ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر په همدې موخه ترسره شو. حاجي ملا صاحب د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې له خبریالانو سره د خبرو پرمهال وویل چې دوی په دې سفر کې ښه پرمختګونه درلودل چې مهم هغه یې د کرنې، برېښنا، ترانسپورټ، سوداګرۍ، د اوسپنې پټلۍ او نورو برخو کې وو. دا هغه برخې دي چې کولای شي د هېواد اقتصادي وده پیاوړې او سوداګري پراخه کړي. د دې برخو په پرمختګ سره به له یوه لوري هېواد ته د پانګونې بهیر ګړندی او له بل لوري به د هېواد زیربناوې ورغول شي چې په دې سره به زموږ زیربناوې جوړې او هېواد به مو په هره برخه کې پرمختګ وکولای شي. په کار هم همدا ده چې موږ تر هر څه وړاندې د خپلو اساسي سکټورونو او زیربناوو رغولو او پرمختګ ته لومړیتوب ورکړو. اسلامي امارت په دې برخه کې تر دې مهاله ښه پرمختګونه کړي او لا هم دا لړۍ روانه ده. لرې نه ده چې افغانستان به په راتلونکي کې د یوه خپلواک اقتصاد څښتن او هېوادوال به مو هوسا او ارام ژوند ولري.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته نامه آبادی

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبيکستان له لومړي وزير سره وکتل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبيکستان ته د خپل سفر پر مهال د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د کب مياشتې په څلورمه نېټه د ازبيکستان له لومړي وزير محترم عبدالله عارف اوف سره وکتل. د دغه ليدنې پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د شوو توافقنامو پر عملي کولو خبرې وشوې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال د اسلامي امارت بهرني سياست ته په اشارې سره وويل، د ګاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو په اړه د اسلامي امارت سياست بې‌طرفه او د نه مداخلې پر اصولو ولاړ دی او له دوی څخه هم همدې اصل ته د ژمن پاتې کېدو غوښتنه لري.

محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د کر، توليد، کارولو او قاچاق پر ضد جدي مبارزه کړې ده او ګاونډيو هېوادونو ته يې د هغه د قاچاق مخنيوی کړی دی. اسلامي امارت ګاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان خاوره به د هېڅ هېواد پر ضد ونه کارول شي او له دغه هېواد څخه دوی ته کوم تهديد نشته.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د اوسپنې پټلۍ او سړکونو پراختيا يوه مهمه او اساسي موضوع وبلله او ازبيکستاني لوري ته يې بلنه ورکړه څو د مزارشريف – هرات او له هغه ځای څخه کندهار ته د اوسپنې پټلۍ پروژه کې چې ازبيکستان له ايران او چين سره نښلوي، پانګونه وکړي. د محترم ملا صاحب په خبره، په دې سره به له جنوبي اسيا هېوادونو، ايران او چين سره د تاشکند سوداګري پراخه شي او دا به د سيمې په ثبات او پرمختګ کې رغنده رول ولوبوي.

همداراز محترم ملا صاحب د سالنګ لويې لارې د دوهم تونل جوړولو په برخه کې هم تاشکند ته د پانګونې بلنه ورکړه. محترم ملا صاحب وويل، د دې تونل له لارې مرکزي اسيا له جنوبي اسيا سره نښلول کېږي او د سيمې په ترانزيټ کې اساسي رول لري.

په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ازبيک لوري ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت له ازبيکستان سره ټولو امنيتي، اقتصادي او کلتوري اړيکو ته ژمن او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښو اړيکو د پراختيا غوښتونکی دی. محترم ملا صاحب د دواړو لورو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د شوو توافقنامو پر عملي کولو او همدا راز د کابل او تاشکند ترمنځ د بنسټيزو پروژو، سوداګرۍ، ترانزيټ، سيمه ييزو مسايلو او اقتصادي اړيکو د پراختيا په اړه پر ګډ کار کولو ټينګار وکړ. ورپسې د ازبيکستان لومړي وزير عبدالله عارف اوف له افغانستان سره د اقتصادي اړيکو پر پراخوالي ټينګار وکړ او ويې ويل، ازبيکستان د تاشکند او کابل ترمنځ د اقتصادي اړيکو او سوداګرۍ د پراختيا په موخه له ټولو شريکو شوو طرحو ملاتړ کوي او د عملي کېدو له پاره به يې د دواړو لورو تخنيکي ټيمونه خپل کار ته دوام ورکړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبيکستان هېواد د لومړي وزير له مرستيال سره وکتل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي ازبيکستان ته د خپل سفر پر مهال د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د کب مياشتې په څلورمه نېټه د ازبيکستان د لومړي وزير له مرستيال محترم جمشيد خوجه يوف سره وکتل. د دغه ليدنې پر مهال دواړو لورو د سوداګريزو او ترانزيټي اړيکو پر پراختيا او همدا راز په افغانستان کې د ازبيکستاني پانګوالو پر پانګونې خبرې وکړې. ازبيکستاني لوري وويل، تاشکند چمتو دی چې له کابل سره د سوداګريزو اړيکو د پراخولو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحد کې ګډ سوداګريز زون رامنځته کړي. په دغه زون کې به

د جلغوزیـــو او پنبـــې د پروســـس فابریکې، د بســـته‌بندۍ او لوجســـتیک مرکزونه او د یوشمېر خوراکي توکو د تولید کارخونې جـــوړې شي. د ازبیکســـتان د لومړي وزیر مرســـتیال وویل، ازبیکســـتاني پانگوال چمتو دي چې په افغانستان کې د نفت او گازو د اکتشاف او استخراج په برخه کې له اسلامي امارت سره گډه همکاري وکړي او هلته د صنعت او په سمنگان ولایت کې د ســـیمنټو د کارخونې جوړولو په برخه کې پانگونه وکړي. هغه زیاته کړه، د طوطي میدان گازو د اکتشـــاف په برخه کې ښـــه پرمختگونـــه لري چې پـــه نږدې وخت کې به یې د اســـتخراج چارې هم پیل کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ازبیکستاني لوري د طرحو هرکلی وکړ او د اســـلامي امارت له لوري پـــه دې برخو کې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ



# کابل او تاشکند په بېلابېلو اقتصادي برخو کې د گډې همکارۍ په پراختیا ټینگار وکړ



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستان ته د خپل سفر پر مهال د ۱۴۰۳لمریز کال د کب میاشـــتې په څلورمه نېټه د دغه هېواد د لومړي وزیر له مرستیال محترم جمشـــید خوجه یوف سره په دوهمه گډه ناسته کې دواړو لورو د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په بېلابېلو برخو کې پر گډو همکاریو خبرې وکړې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، د افغانســـتان او ازبیکستان ملتونه دیني، تاریخي، کلتوري او قومي مشترکات لري او دغو بنســـټیزو مشترکاتو د تاریخ په اوږدو کې د دواړو هېوادونو پر سیاسي او اقتصادي اړیکو خورا مثبت اغېز کړی دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت په حاکمیت سره د دواړو هېوادونو ترمنځ ســـوداگریزې اړیکـــې ورځ تر بلې د زیاتېدو او پیاوړتیا په حال کې دي او اړتیا ده چې دواړه لوري یې د لا پراختیا په موخه گډ کار وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او تاشـــکند ترمنځ د سوداگریزو اړیکو د پراختیا په موخه د ازبیکستان د مرکزي بانک له لوري د بانکي انتقالاتو په برخه کې د لازمو اســـانتیاوو پر رامنځته کولو، د افغانســـتان بانکي سکټور د ظرفیـــت لوړونې پـــه برخه کې د ازبیکســـتان پر همـــکارۍ، په سوداگریزه راکړه ورکړه کې د دواړو هېوادونو له ملي پولي واحدونو څخه پر استفادې، په سرحد کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د گمرکي سیستمونو پر ژر وصل، د گډ بازار لپاره د توکو په انتقال کې افغان ســـوداگرو ته د اســـانتیاوو پر رامنځته کولو، د افغان سوداگرو پر وړاندې د ســـوداگریزو اجازه نامو له منځه وړلو، هغوی ته د ویزو د ورکړې په برخه کې د سهولتونو پر رامنځته کولو، له ازبیکستان سره د هایدرو کاربونونو او کانونو په برخه کې د شـــویو توافقنامو عملي پیل باندې ټینگار وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ازبیکستاني لوري وغوښتل څو د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي او افغان – ټرانس پروژې عملي چارې ژر پیل کړي. اســـلامي امارت پـــه دغه برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی. همدارنگه محترم ملا صاحب ازبیکستاني پانگوال په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانگونې ته راوبلل او هغوی ته یې د هر ډول اسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکړ.

د ازبیکستان د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي جمشید خوجه یوف په ذکر شـــوو برخو کې د ازبیکستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او وویل، تاشکند په ټولو اقتصادي برخو کې له کابل سره د گډ کار کولو لېوالتیا لري.

د یادونې وړ ده چې د سوداگرۍ، ترانزیټ، د کانونو او صنعت په برخه کې د پانگونې، په افغانســـتان کې د اوسپنې پټلۍ شبکو د پراختیا او جوړولو، بانکي همکاریو او یوشمېر نورو اقتصادي برخو کې به د دواړو لورو تخنیکي کمېټې خپل کار ته دوام ورکړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ازبېکستان کې له مېشت افغان پانګوالو او سوداګرو سره وکتل



د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبکستان ته د خپل ســفر پر مهال د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د کب په پنځمه نېټه په ازبېکســتان کې له مېشت افغان پانګوالو او سوداګرو سره په تاشکند کې د افغانستان په سفارت کې وکتل.

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال له افغان پانګوالو او سوداګرو سره د ليدنې پر مهال وويل، د اللّٰه تعالی په نصرت او د افغانانو په بې ساري قربانۍ افغانستان له نړيوال استکباري اشغال څخه ازاد او له لســيزو وروســته له بې مثاله سرتاسري امنيت څخه برخمن شوی دی.

محترم ملا صاحب زياته کړه، د هېواد د اقتصادي ودې د پراختيا په برخه کې لازم ګامونه اخيستل شوي، د زېربنا رغولو په برخه کې ستري پروژې پيل شوي، د لويو لارو د بيارغونې چارې په چټکۍ سره رواني دي، د کورنيو توليداتو او صادراتو کچه زياته شوې او د تجارت بېلانس کې نسبتاً ښه‌والی رامنځته شوی دی. د پانګونې او سوداګرۍ سيستم له فساد او بېروکراسۍ پاک شوی او د کورنيو او بهرنيو پانګوالو لپاره په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې زمينه برابره شوې ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، په تېرو شــلو کلونو کې د افغانانو په څانګړې ډول د شــتمنو هېوادوالــو سر، مال او عزت خوندي نه و؛ خو د اســلامي امارت په حاکميت سره د سوداګرو او پانګوالو مال او عزت خوندي او په ډاډمنه فضا کې خپل کاروبار ته دوام ورکوي.

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال د انــرژۍ، کانونو، کرنې، ټرانسپورټ، زېربنا، مخابراتو، ټکنالوژۍ او روغتيا تر څنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې او پراختيا لپاره اړينه وبلله. هغه زياته کړه، افغــان پانګوال بايد په دې برخو کې پانګونې ته لومړيتوب ورکړي.

محترم ملا صاحب وويل، اســلامي امارت له خصوصي ســکتور څخه بشپړ ملاتړ، راستنېدونکو صنعتکارانو، سوداګرو، کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونــې د زمينې برابرول او د کورنې صنعت پرمختګ ته لومړيتوب ورکول خپل مکلفيت او مسووليت ګڼي او هڅه يې دا ده چې افغانســتان د سيمې د اقتصادي او سوداګريز اتصــال په مرکــز بدل او له ټولــو هېوادونــو سره د اقتصادي او سوداګريزو مناسباتو لمن لا پراخه کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند افغان پانګوالو او سوداګرو ته په خطاب کې وويل:« تاسې زموږ د هېواد د اقتصادي پرمختګ ستنې ياست. ستاســې پانګونه، تجربې او وړانديزونه زموږ لپاره ارزښت لري. ستاســې پانګونه او ســوداګريز فعاليتونه ټول افغانستان ته اقتصادي ګټه رسوي. موږ غواړو تاسې ته د پانګونې نور فرصتونه هم برابر کــړو، ترڅو د صنعتــي توليد، کرنــې، ترانزيټ او نورو اقتصادي سکټورونو د ودې لپاره خپلې تجربې او پانګې وکاروئ. اســلامي امارت د خصوصي سکتور ملاتړ ته ژمن دی. په همدې موخه يې د سوداګرۍ او پانګونې پروسې اسانه کړې، د مالياتو سيستم منظم شوی، د سوداګرو او پانګوالو ټولو حقوقو ته پوره ژمن دی.»

په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په ازبېکستان کې مېشت افغان پانګوالو او سوداګرو ته ډاډ ورکړ چې ستاسې پانګه، شتمني او ســوداګريز فعاليتونه په افغانســتان کې خوندي دي، اســلامي امارت به د اړتيا پر مهال هر ډول لازمه همکاري درسره کوي. محترم ملا صاحب له ټولو پانګوالو او سوداګرو وغوښتل چې خپل صنعت او پانګه خپل هېواد ته را انتقال کړي، څو د هېواد په پرمختګ کې خپل مسووليت ادا کړي.

په ازبېکستان کې مېشت افغان پانګوالو او سوداګر د افغانستان او ازبېکستان ترمنځ د سياسي او اقتصادي اړيکو د پراختيا ملاتړ وکړ او هر پانګوال له لسو څخه تر سل ميليون ډالرو پورې په افغانستان کې پانګونې ته چمتووالی وښود. دوی همدارنګه په يوشمېر برخو کې خپلې ستونزې د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال سره شريکې کړې چې محترم ملا صاحب يې د حل ډاډ ورکړ.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په تاشکند کې د افغانستان سفارت له نوې ودانۍ ليدنه وکړه

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبکستان ته د خپل سفر پر مهال د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د کب مياشتې په پنځمه نېټه په تاشکند کې د افغانستان سفارت له نوې ودانۍ څخه ليدنه وکړه. د دغه ليدنې پرمهال په تاشکند کې د اســلامي امارت سفير شــيخ عبدالغفار بحر د نوې ودانۍ په اړه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ته معلومات ورکړل.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال په تاشکند کې د افغانستان سفارت له ودانۍ څخه د ليدنې پر مهال د سفارت مسوولينو ته وويل، لله الحمد په افغانستان کې يو داسې نظام واک ته رسېدلی، چې هغه په رښــتينې مانا د هېوادوالو خدمت کوي او په دغه برخه کې خپلو مسووليتونو ته په ښه ډول متوجه دی. محترم ملا صاحب زياته کړه، د هېوادوالو هوساينه او رضايت زموږ يوازينۍ هيله ده او

تاسې هر مسوول کس باید کوښښ وکړئ، څو د هېوادوالو ستونزو ته په وخت او ښه ډول رسېدنه وکړئ. د محترم ملا صاحب په خبره، افغانستان هغه وخت په پښو درېدلی شي، چې حکومت د ملت خدمت وکړي او ملت له حکومت سره اوږه په اوږه په ټولو چارو کې همکار واوسي.

په تاشکند کې د افغانستان سفارت مسوولینو د سفارت د فعالیتونو په اړه د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال ته معلومات وړاندې او ویې ویل، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په ازبیکستان کې د مېشت افغان کډوالو او کارکوونکو ستونزې تر ډېره حده حل شوې دي.

د یادونې وړ ده چې په تاشکند کې د افغانستان سفارت د نوې ودانۍ چارې بشپړې شوې او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.



# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی پلاوی ازبیکستان ته له دوه ورځني سفر وروسته کابل ته راستون شو




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړی پلاوی چې په ترکیب کې یې د کابینې یوشمېر محترم غړي او د سکټوري ادارو استازي شامل و، ازبیکستان ته له دوه ورځني سفر وروسته د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په پنځمه نېټه کابل ته راستون شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کابل نړیوال هوایي ډګر کې له رسنیو سره د خبرو پر مهال یاد سفر له لاسته راوړنو ډک وباله او ویې ویل، چې د خپل سفر پرمهال یې د ازبیکستان له لومړي وزیر، د لومړي وزیر له مرستیال او د یوشمېر ادارو له مسوولینو سره وکتل. په دې لیدنو کتنو کې دوی ښه پرمختګونه او بحثونه درلودل چې مهم هغه یې د کرنې، برېښنا، ترانسپورټ، سوداګرۍ او د اوسپنې پټلۍ او نورو برخو کې دي. حاجي ملا صاحب زیاته کړه، د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځولو پروژه چې پخوا یې قرارداد په ۲۵۲میلیون ډالرو شوی و، له بحثونو وروسته ازبیکستان دا قرارداد ۲۲۲ میلیون ډالرو ته راټیټ کړ. همداراز یې د اوسپنې پټلۍ په برخه کې وویل چې ډېر ژر به د ازبیکستان د اوسپنې پټلۍ تخنیکي ټیمونه افغانستان ته راشي او له حیرتان څخه به تر هرات پورې د اوسپنې پټلۍ د غځولو لومړني مطالعات پیل او له مطالعاتو وروسته به د ریل پټلۍ عملي چارې پیل کړي، چې د مطالعاتو لګښت یې ازبیکستان ورکوي. حاجي ملا صاحب دا هم وویل چې ازبیکستان به د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د صادراتو په برخه کې شته محدودیتونه لرې کړي. له دې سره به ازبیکستان ته د افغانستان د کرنیزو محصولاتو په صادراتو کې زیاتوالی راشي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ازبیکستان څخه د واردېدونکې برېښنا په اړه وویل، دوی له ازبیکستان سره موافقې ته رسېدلي چې په راتلونکي کال کې به ددغې برېښنا کچه زیاته او تعرفه به یې کمه شي.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند شماری از بخش‌ها در شفاخانه سردار محمد داوود خان را به بهره برداری سپرد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء دوم حوت سال جاری خورشیدی شماری از بخش‌های صحی در شفاخانه ۴۰۰ بستر سردار محمد داوود خان را به بهره برداری سپرد.

در این مراسم محترم مولوی محمد یعقوب مجاهد، سرپرست وزارت دفاع ملی و قاری فصیح‌الدین فطرت، لوی درستیز قوای مسلح امارت اسلامی نیز حضور داشتند.

این بخش‌ها شامل بخش ۱۰۰ بستر تازه تأسیس، شفاخانه‌ای ویژه برای بیماران ملکی و همچنان تحویل دهی کمپ ان کی سی به شفاخانه سردار محمد داوود خان می‌باشند که مجهز به تجهیزات طبی جدید و پیشرفته اند.



# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي ګروپ له لوري د څو سترو پروژو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په دوهمه نېټه د عزیزي ګروپ لخوا د څو سترو خیریه او سوداګریزو پروژو او همدا راز تعلیمي بنسټونو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یادو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د عزیزي ګروپ له لوري په بېلابېلو برخو کې د مهمو پروژو پیل په افغانستان کې د خصوصي پانګونې په برخه کې یو ستر او مهم ګام دی، چې پر مټ به یې هېوادوالو ته نوي کاري فرصتونه برابر شي، بنسټیزو او اړینو خدماتو ته به د خلکو لاسرسی اسانه او په ټوله کې به د هېواد په ابادۍ کې مهم رول ولري. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد اقتصادي وضعیت ته په اشارې سره وویل، په ټول هېواد کې امنیت تأمین او د لویو اقتصادي پروژو عملي چارې رواني دي او ورځ تر بلې له هېوادونو سره سوداګریزې او دیپلوماتیکې اړیکې پراخېږي چې په راتلونکي کې به نور ښه زیري هم ولرو.

محترم ملا صاحب زیاته کړه: « اطاعت او احترام د اسلامي امارت یو ذاتي اصل دی چې په هر حالت کې به دوام کوي، د اسلامي امارت ټول فکر یوازې د شریعت پر تطبیق، د هېواد پر ابادۍ او د ملت پر سوکالۍ متمرکز دی.»

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له نړیوالو وغوښتل څو له افغانستان سره مثبت تعامل ته مخه کړي، ځکه اقتصادي او سیاسي فشارونه د هېڅ لوري په ګټه نه دي. د نړۍ په تاریخ کې ثابته شوې ده چې فشارونه تعامل او اړیکو ته لار نه هواروي، دا چاره ملتونه او هېوادونه نور هم سره لیرې کوي او له ټولو څخه د مناسبو اړیکو اصلي مسیر پاتې کېږي. ښه دا ده چې د منل شوو اصولو په چوکاټ کې د متقابلو اړیکو او تعاملاتو مناسبې لارې غوره شي.



په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي ګروپ مسوولینو ته د یادو پروژو د پیل مبارکي وویله او له ټولو پانګوالو یې وغوښتل چې په خپل هېواد کې پانګونه وکړي، اسلامي امارت دوی ته د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.

د یادونې وړ ده چې عزیزي ګروپ په کابل کې د سرطاني ناروغیو د تداوۍ ۴۰۰ بستریز معیاري روغتون، د مور او ماشوم د خوندیتوب لپاره ۲۰۰ بستریز زېږنتون، معیاري ښوونځي، د نرسېنګ انستېټیوټ، طبي پوهنتون او د ۲۰۰ میګاواټه په ظرفیت د برېښنا د تولید پروژو عملي چارې پیل کړې.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې

د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي

هفته‌نامه آبادی


# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## شرکت برشنا: ۱۲۶ پروژه برق‌رسانی را روی دست داریم

شرکت برشنا می‌گوید که در ســال ۱۴۰۳ هجری خورشیدی، نزدیک به ۱۲۶ پروژه برق‌رســانی را روی دست دارد که برخی از آن‌ها قرارداد شده و شــماری نیز در حال اجرا هستند. صفی‌الله احمدزی رئیس عملیاتی این شرکت در برنامه ارایه دست‌آوردهای شش‌ماهه شرکت برشنا می‌گوید که در حال حاضر ۲۱ درصد برق از منابع داخلی و ۷۹ درصد آن از خارج کشور تامین می‌شــود. رئیس عملیاتی شرکت برشــنا گفت: «در سال ۱۴۰۳، نزدیک به ۱۲۶ پروژه داریم که بیش‌تر آن‌ها قرارداد شده و بسیاری از آن ها در حال اجرا است.»

در این برنامه، مسوولان برشنا درباره توسعه شبکه برق، اصلاحات، تامین برق، امــور عملیاتی و برنامه‌های واردات برق از کشــورهای همســایه معلومات ارایه کردند. عبدالباری عمر رییس عمومی شرکت برشنا گفت که در سال جاری به‌ویژه برای تامین برق پارک‌های صنعتی توجه بیش‌تری شده و پروژه‌هایی مانند بند کجکی، بند ماهیپر، خط انتقال ۵۰۰ کیلوولت ارغندی و پروژه چک وردک در حال اجرا است. به گفته‌ی او، از میان ۵۶ هــزار میتر آنالوگ، تاکنون ۳۷ هزار میتر دیجیتالی شــده و روند معیاری سازی سیستم برق ادامه دارد.

## کاهش چشـــم‌گیر تجـــارت میان افغانستان و روسیه در ده ماه اخیر

بر بنیاد اطلاعات وزارت صنعت و تجارت، در دادوستد میان افغانستان و روســیه در ده ماه ســال جاری نسبت به سال گذشته، کاهش چشم‌گیر به میان آمده است. وزارت صنعت و تجارت گفته است که در ده ماه سال جاری به ارزش ۲۲۰ میلیون دالر با روسیه داد وستد انجام شده؛ در حالی که این رقم در ده ماه ســال گذشته به بیش از ۳۲۲ میلیون دالر می رسید. در این مدت، افغانســتان به ارزش ۳ میلیون دالر به روسیه صادرات داشــته؛ در حالی که ۲۱۷ میلیون دالر را از روسیه کالا وارد کرده است. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن گوی وزارت صنعت و تجارت گفت: «تجارت افغانســتان با کشــور روسیه در جریان ده ماه ســال ۱۴۰۳ به ارزش ۲۲۰ میلیــون دالر که از این میان ۳ میلیون دالر آن را صادرات و ۲۱۷ میلیون واردات اســت.» با این حــال اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری بر حل چالش‌های بازرگانی میان افغانستان و روسیه از بهر افزایش روبط بازرگانی تاکید ورزیده است.

## له کندهــاره څه باندې ٦٢ زره ټنــــه وچــه میــوه صادره شوې

د کندهــار د ســوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولین وايي، چې د روان کال په ترڅ کې له دغه ولايــت څخه بهرنیو هېوادونو ته ٦٢ زره ٣١٠ ټنه وچه مېوه صادره شــوې ده. د يادې خونې مرســتيال انجنير عبدالباقي بينا ويلي، چې د دغو صادراتو ټول ارزښت ٢٤٤ ميليونــه ډالــرو ته رســېږي، چــې هند، پاکستان، عربي متحده اماراتو او امريکا ته استول شوي دي. نوموړي زياته کړې چې د صادراتو ډېره برخه انځر، شــکرپاره او مميز جوړوي. د کندهار د ســوداګرۍ او پانګونې خونــې مســوولينو ويــلي، چې هنــد ته د افغانستان د وچو مېوو پر صادراتو هېڅ ډول ماليه نه اخيستل کېږي.

## آغاز دو پـــروژه برق رســـانی در کابـــل به ارزش بیـــش از ۲۵ میلیون دالر

وزارت انرژی و آب کار دو پروژه برق‌رسانی را به ارزش بیش از ۲۵ میلیون دالر در کابل آغاز کرد. عبداللطیف منصور سرپرست وزارت انرژی و آب با اشاره به اهمیت این پروژه‌ها، گفته است که با عملی‌سازی این دو پروژه بخش بزرگــی از چالش‌های کمبود برق باشــندگان کابل و پارک‌های صنعتی حل می‌شود. این دو پروژه شامل نیروگاه جدید ۱۸۹ میگاولت در منطقــه بت‌خاک کابل و لین انتقال برق ۲۲۰ کیلوولت از ارغندی تا این نیروگاه می‌شود. سرپرســت وزارت انرژی و آب گفت: «حال الحمدلله سب استیشن بت خاک و از چوک ارغندی تا اینجا لین کشی جریان دارد که مجموعــا از هزینه هردو پروژه بیش از ۲۵ میلیون دالر می‌رســد.» عبداللطیف منصور ورزیده اســت که وزارت انــرژی و آب تلاش دارد از طریق راه اندازی پروژه‌های گوناگون، آب‌های کشور را مدیریت و انرژی موردنیاز افغانستان را تامین کند. به گفته آقای منصور، امارت اسلامی در سه سال پســین پروژه‌های بزرگی را در بخش‌های مدیریت آب و تولید انرژی آغاز کرده که کار برخی از آن‌ها تکمیل شده است.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۷۳,۵۵؋ | ۷۳,٦۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲٥٤؋ | ۲٥٤؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۳؋ | ۱,۳۳؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۷,۰۱؋ | ۷۷,۰۷؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۸٤؋ | ۰,۸٤؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸٤۸؋ | ۸٤۹؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۲,۹۸؋ | ۹۳,۰٤؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۹,٦۱؋ | ۱۹,٦۳؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲۰,۰۳؋ | ۲۰,۰٤؋ |
| ۱ | چیني ین | ۱۰,۱٤؋ | ۱۰,۱٥؋ |